# په پښتو مجله کښې د ماشومانو د ادب برخه

## In Pashto magazin: section of childern literature

Dr. Farkhanda Hayat[1]

**ABSTRACT:**

Pashto is a bi- lingual and bi- annual research journal published continuously since 1955, by the Pashto Academy, University of Peshawar. The first editor of this magazine was Maulana Abdul Qadir, after him Syed Rasool Rasa, Syed Azim Shah, Khayal Bukhari, Muhammad Nawaz Tahir, Dr. Prof. Raj Wali Shah Khattak, Dr. Prof. Salma shaheen and many other eminent writers and researchers became its editors. Its current editors is Dr. Prof. Nasrullah Jan, Director of Pashto Academy Peshawar University. The journal publishes papers in both Pashto and English on topics related to Pashto language, literature, history, art, and culture. Along with this, special numbers have also been published from time to time, including Khushal number, Rehman number, Maulana Abdul Qadir number and others. From time to time this research journal has published children's literature, or poems and articles about them. This research article presents a brief introduction and a short brief summary of the themes.

**Ker words:** children literature, folkloric genres, Mental and Moral training, desire

### د موضوع پېژندګلوي

پښتو مجله له کال ۱۹۵۵م راهسې په مسلسل توګه د پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون له اړخه نشر ته سپارل کېږي. او له ښه مرغه دغه لړۍ لاتراوسه هم دوامداره پاته ده. د پښتو مجلې لومړے مدير اروابناد مولانا عبدالقادر ؤ، وروسته ئې يو شمېر نورو نامتو ليکوالانو، اديبانو چې په هغو کښې د سيد رسول رسا، سيد عظيم شاه، خيال بخاري، پروفېسر محمد نواز طاهر، پروفېسر ډاکټر راج ولي شاه خټک، پروفېسر ډاکټر سلمیٰ شاهين او نورو نومونو د يادولو وړ دی. اوسنے مدير ئې د پښتو اکېډيمۍ پېښور پوهنتون ډائريکټر ډاکټر پروفېسر نصرالله جان وزير صاحب دے. په دغه علمي او ادبي مجله کښې

---

[1] Associate professor Pashto academy, university of Peshawar

په مجموعي توګه د پښتو ژبې، ادب، کلتور، تاریخ او نورو اړوندو موضوعاتو په اړه تحقیقي او تنقیدي مضامین خپارهٔ شوي دي. وخت په وخت ئې ځانګړې نمبرونه هم راوتلي دي، چي په هغو کښې د خوشحال نمبر، رحمان نمبر، مولانا عبدالقادر نمبر، فن و فنکار نمبر او نورو نومونه د یادولو وړ دي. دغه علمي او ادبي مجله اوس مهال د پاکستان له هائر اېجوکېشن کمېشن سره هم رجسټړه شوې، او یوازې هغه مضامین او مقالې خپروي چې د تحقیقي اصولو په رڼا کښې لیکل شوي وي. په پښتو مجله کښې وخت په خت د ماشومانو ادب، یا د هغو په اړه هم یو شمېر منثور او منظوم اثار خپارهٔ شوي دي. چې په دغه لیکنه کښې ئې لنډه پېژندګلوي او موضوعاتو لنډه خلاصه وړاندې شوې ده.

## د ماشومانو ادب

ماشومان د یوې ټولنې تر ټولو اهم او پام وړ جز ګڼلے شي، ځکه چې د نن ماشوم د سبا ځوان او بل سبا مشر ګڼلے شي او کله چې هم د نن ماشوم د سالمې پاملرنې تر سالمو لاسونو تېر شي، نو هیله دا کېږي چې نهٔ یوازې د هغه سبا خوندي شي، بلکې هغه ټولنه هم نیک مرغه او بختور اساسونه موندلی شي، چې وګړي ئې د خپلو ماشومانو د روزنې کار ته ځیرک او متوجې وي. هم دا وجه ده چې د نړۍ په پرمخ تللو ټولنو کښې هم په شعوري توګه او هم لاشعوري توګه دا هڅه روانه ده، چې د خپلو ماشومانو د ذهني، اخلاقي بلکې بدنې روزنې په برخه کښې د اړتیا وړ ګامونه پورته کړل شي. چې په هغو کښې یوه لاره د ادب او ادبي اصنافو کارول هم ده. د یوې ژبې د ادب هغه برخه ته چې د ماشومانو د تفریح یا ذهني روزنې لپاره لیکل کېږي، د ماشومانو ادب وئیل کېږي. او د دغه ډول ادب د لیکلو یا تخلیقولو بنیادي مقصد یوازې دا وي، چې د ماشومانو ذهنونو ته له تفریح سره سره داسې مواد هم انتقال کړل شي، چې وروسته د هغو د ذهني او اخلاقي روزنې په کار کښې ګټور او کار امد ثابت شي. تکړه لیکوال او محقق ډاکټر نور البصر امن په دې اړه لیکي:

"د ادب له لفظ سره چې د ماشوم لاحقه ولګي نو مطلب ترې نه مونږ د ماشومانو ادبیات اخلو، خو د ماشومانو د ادبیاتو پېژندګلو په خاصه توګه د ماشومانو د تربیت زد کړې لوبو تفریح ذوق او مزاج سره تعلق لري. خو په عامه توګه هغه ادبیات چې د موضوع او موادو په لحاظ د ماشومانو ادبي ذوق او

ضرورت پوره کوي نو مونږ ئې د ماشومانو په ادب کښې کښې شمارلے شو. خوا که دغه د هر عمر انسانانو تخليق کړې وي"(1).

## د ماشومانو د ادب ډولونه

د ماشومانو ادبيات عموماً دوه ډوله ارزول کېږي. يو هغه ډول دے چې د اولسي دانش له زړې څخه په خودرو توګه (SPONTANEOUSLY) رازيږي، او وروسته د نسلونو يا دورونو سره قدم په قدم د بقاء او ارتقاء پړاوونه رالنډوي. مونږ چې کله هم د يوې ژبې اولسي او فولکوري پانګه سره وشنو، نو هلته به د نورو ټولنيزو موضوعاتو په څنګ کښې د ماشومانو لپاره هم ځانګړي ادبيات تخليق شوي وي.

هم دا وجه ده چې د نړۍ د هرې ژبې فولکوريکه پانګه له بلها داسې منثورو قيصو، منظمو داستانونو، اولسي نکلونو، زړۀ راکښونکو اړونو (کيسۍ)، شاعري او نورو اصنافو څخه تر اوسترې بريده ډکه ښکاري، چې د موضوع محور په ماشومانو پورې اړه لري. چې يو ښۀ مثال ئې د مېندو هغه زړۀ راکښونکې او مترنمې سندرې هم دي، چې هغه ئې د سترګو په رپ کښې د خپلو ماشومانو تر غوږونو پورې رسوي.

"شه للو للو، اله شه للو للو.
سپيه مه راځه له غرو، اله شه للو للو
پلانکے اوده په خوبو، اله شه للو للو*

يا بيا دا...!
"الله هو شه الله هو..... للے للو للے للو للے للو
تاسو مه راځئ غلو، هلته يو صندوق دے
هغه ډک د مصرو، الله هو شه الله هو
په دې لار مه راځئ غلو، زما بچے داسې اوده دے"(2)

د ماشومانو د ادب بل اهم قسم هغه دے، چې د ليکوالانو، اديبانو، مفکرينو، استادانو او نورو اړوند خلقو لخوا په رسمي توګه تخليق شوے يا

---

* اتل، بي بي آمنه، کوټه

ليکل شوے وي. وئيل کېږي چې دغه ډول ادب هغه وخت په يوه منظم شکل راڅرګنده شوه، چې کله د اوولسمې پېړۍ په اوږدو کښې يو شمېر اروپائي ليکوالانو او اديبانو داسې ادبي او هنري مواد تخليقول پيل کړل، چې د خپلو ماشومانو د روزنې او مشغول ساتلو لپاره وکارول شي. دغه روايت وروسته د نړۍ د نورو ژبو په ادبياتو کښې هم مضبوط او سوکه سوکه ئې ځان ته د پام وړ ځای وموند. د اردو ژبې نامتو ليکوال او محقق پروفېسر شاهد اقبال په خپل يوه تحقيقي مضمون (ادب اطفال، روايت او مسائل) کښې د ماشومانو د ادب د پيل او ابتداء په اړه وائي:

*"ادب میں ادب اطفال کا آغاز اٹھارھویں صدی کے اواخر میں مغرب میں ہوا، اس کے بعد ادب اطفال کی یہ روایت مضبوط و مستحکم ہوتی چلی آئی۔ مغربی ادب اطفال کی دلچسپ بات یہ ہے، کہ وہاں کے ادیبوں نے وقت بدلنے کے ساتھ ساتھ بچوں کی ذہنی قوت اور نفسیات کے عین مطابق ادب تخلیق کیا"*(3).

## پښتو اولسي او تحريري ادب کښې ماشومانو د ادب برخه

پښتو يوه داسې خوږه وره او پراخه ژبه ده چې نه يوازې ئې د ږغاکونکو شمېر تر مليونونو اوړي، بلکې د لوستونکو شمېر ئې هم خورا ګڼ دے. د نړۍ د بلې هرې ژبې په څېر په دغه ژبه کښې هم د ماشومانو لپاره دوه ډوله (اولسي او رسمي) ادب موجود دے.

**اولسي ادبيات**: مخکښې هم دې خبرې ته اشاره وشوه، چې پښتو يوه ډېره لرغونې او زړۀ ژبه ده، هم دا وجه ده چې دغه ژبه له يو شمېر نورو ځانګړنو سره سره د اولسي ادب له پلوه هم خورا غني او بډايه ګڼلے شي. او له ښه مرغه په دغو اولسي ادبياتو کښې د ماشومانو برخه هم د پام وړ، او په زړۀ پورې ښه لري. د شته فولکوريکو اثاثو پر بنياد وئيلے شو، چې دغې ژبې د خپلې ارتقاء له لومړيو پړاوونو راهسې له ځان سره داسې فولکوري اصناف راغوټه کړي دي، چې د ماشومانو په ادب پورې ئې اړوند ارزولی شو. ځکه چې دغه ژبه يو لوئ شمېر داسې منثور او منظوم فولکوري اصناف لري، چې شاليد ئې بلها لرغونے او پخوانے ښکاري.

## تحریري یا رسمي ادبیات

اوس به راشو لږ دې خبرې ته چې د پښتو په رسمي او تحریري ادب کښې د ماشومانو د ادب برخه څومره ده. د دې باوجود چې پښتو ژبه په مسلسل توګه د سیاسي محرومیو په منګلو راګېر او ودې او ترقۍ امکانات ئې په هر دور کې محدود پاته شوي دي. خو بیا ئې هم د رسمي او تحریري ادبیاتو برخه ضخیمه او په زړۀ پورې بڼه لري. په خصوص د شلمې او یوشتمې پېړیو په اوږدو کښې چې کوم علمي او ادبي اثار تخلیق شوي یا منځ ته راغلي دي، هغه نه یوازې له فني پلوه بلکې له موضوعاتي پلوه هم خوار بډایه ارزول کېږي. ځکه چې په دغه موده کښې یو لوے شمېر پښتنو لیکوالانو، ادیبانو، مفکرینو، شاعرانو او نورو د نظر خاوندانو د ادب په ټولو برخو لکه: شاعري، افسانوي ادب، تخلیق، تحقیق، تنقید، کلتور، تاریخ او نورو کښې شاهکار علمي او ادبي خدمتونه ترسره کړي دي. هم دا وجه ده چې دغه ژبه له زرګونو زرګونو چاپي اثارو سره سره په لسګونو داسې مجلې، ورځپاڼې او نورې خپروندویه وسیلې هم لري، چې د پښتو ادب د خپرولو او خوندي کولو لپاره مختص شوې دي. او له ښه مرغه دغه لړۍ لا هم داسې دوام لري. خو بل لور ته چې بیا وګورو نو وئیلے شو، چې د دې باوجود پښتو ادب ضخیمه او کثیرالموضوعاتي اثاثه لري. خو د ماشومانو د ادب برخه ئې په اوږو کښې د مالګې برابر هم نۀ ده. د رسمي ادب په برخه کې ډېر لږ داسې چاپي اثار لرو چې د ماشومانو ادب ته ئې د ضرورت مطابق پاملرنه کړې وي.

## پښتو مجله کښې د ماشومانو پر ادب د لیکل شوو اثارو پېژندګلوي

پښتو مجله له کال ۱۹۵۵م څخه په مسلسل توګه د پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون له اړخه نشر ته سپال کېږي، او له ښۀ مرغه دغه لړۍ لاتراوسه په یوه نه شلېدونکي بڼه دوام مومي. په دغه علمي او ادبي مجله کښې د پښتو ژبې، ادب، تاریخ او نورو اړوندو موضوعاتو په برخه کښې تحقیقي او تنقیدي لیکنې او مضامین خپاره شوي دي. په اوستریو وختونو کښې ئې د خپرونو حدود یوازې د تحقیقي او تنقیدي لیکنو او مقالو تر حدودو رامحدود شوي دي. دغه لرغونې مجله له چاپي بڼې سره سره په ان لاین توګه هم خپرېږي. په پښتو مجله کښې

ماشومانو ادب یا د ماشومانو د ادب په اړه وخت یو شمېر منثور او منظوم اثار هم خپاره شوي دي، چې دلته ئې لنډه پېژندګلو کوو.

- د پښتو میاشتنۍ مجلې د کال ۱۹۶۷م د جولائي په ګڼه کښې پر مخ ۲۴م د «ماشوم ولې ویرېږي» تر عنوان لاندې د «سید منظر جان ساجد» نومي لیکوال یو داسې مضمون خپور شوے دے، چې په ماشومانو کښې ئې د ویرې بنیادي لاملونه په ګوته کړي دي. نوموړي لیکوال د هغو نفسیاتي عواملو په اړه تفصیلي بحث کړے دے، چې یو ماشوم د ویرې له حالت سره مخامخ کوي. دغه مضمون تر بریده چې ماشومانو موضوع بحث کوي، نور هیڅ ډول ادبي اړخ نه لري.
- د پښتو میاشتنۍ مجلې د کال ۱۹۸۰م د جولائي او اګست په ګڼو کښې د «ماشوم خوراک» په نوم د دلشاد اختر بهټي نومي لیکوال یو داسې قسطوار مضمون چاپ شوے دے، چې د ماشوم د خوراک څیښاک په اړه ئې خوندور معلومات راټول کړي دي. دغه معلوماتي مضمون د پښتو اکېډیمي پښور پوهنتون پخوانۍ ډائریکټرې او نامتو لیکوالې اغلې سملې شاهین په روانه او سلیس پښتو ژباړلے، او وروسته خپور کړے دے. دغه معلوماتي لیکنه یوازې معلوماتي بڼه لري، نه کې ادبي.
- د پښتو میاشتنۍ مجلې د کال ۱۹۸۳م د مارچ په ګڼه کښې د نامتو لیکوال او ادیب اروابناد محمد نواز طاهر د «ماشوم سحر» تر عنوان لاندې یو داسې نظم خپور شوے دے، چې د عنوان له مخه د ماشومانو په ادب پورې اړه لري. په دغه نظم کښې په مجموعي د کلیوال ژوند عکاسي شوې ده، او پر دې خبر لنډ بحث شوے دے، چې په کلیوالو سیمو کښې د ورځې اغاز څنګه او څۀ وخت کېږي. دغه خوندور او په زړۀ پورې نظم درې بندونه، یوویشت شعرونه او دوه څلوېښت مصرې لري. لومړے بند ئې رانقل کوو:

"الله اکبر کړو ملا وخت د صبحدم شولو
پاڅېد بابا زمونږ روان جمات سم شولو
وګوره ابۍ د نمانځه څني وزګاره شوه
کټ پوزے ئې غونډ کړلو د کور کار ته تیار شوه
غوا، بیزه ئې لوشل او ور ئې دا دے بل کړلو
کار ئې د ناشتې په یوه ساعت کښې بنائښته چل کړلو

پورته ته شي غرمه ده نعره بیا ئې سر دوباره کړه
مونږ ته ئې کوزه د اوبو مخ ته لاس ته تیاره کړه
چاے ناشته تیار دے ابۍ وائي ماسپښین شولو
نه پاڅې د خوبه زما زړۀ درته شین شولو"(4)(روان)

- دا ډول د پښتو میاشتنۍ مجلې د کال ۱۹۸۸م د مارچ په ګڼه کښې د پښتو اکېډیمۍ پېښور د پخواني ډائریکټر اروابناد پروفېسر محمد نواز طائر د «ماشومانو د ادب مصنفین او د هغوی مسائل » په نوم، یوه داسې تحقیقي مقاله خپره شوه ده، چې نوموړي لیکوال د ماشومانو د ادب د منصفینو د ستونزو پر موضوع لیکلې ده. دغه تحقیقي لیکنه وروسته په یوه داسې ورکشاب کې هم وړاندې شوې ده، چې د کراچۍ په ښار کې د ماشومانو د کتابونو په حقله منعقد شوی ؤ. نوموړي لیکوال په خپله دغه مقاله کې لومړی د ماشومانو د ادب لنډه تاریخ بیان کړی دی، وروسته ئې هغه مسائل په ګوته کړي دي، چې د ماشومانو د ادب لیکونکي ورسره لاس و ګرېوان دي.

- د پښتو میاشتنۍ مجلې د کال ۱۹۸۹م د اکتوبر، نومبر، دسمبر په ګڼه کښې د حضرت خان زاهد نومي شاعر یو خوندور نظم «ماشومه پښتنه طالبه» خپور شوے دے. نوموړی شاعر په خپل دغه نظم کښې د پښتنو نجونو د ښوونځي تګ ستائیلے دے، او هغو ته وائي، که څۀ هم ملک د پښتو دے او ستاسو په مخ کښې خنډونه ډې دي، خوتاسو بیا هم خپلو زدکړو ته دوام ورکوئ. دغه له مقصده ډک نظم نهه (۹) بندونه او پنځه څلوېشت مصرې لري.پیل ئې داسې شوے دے:

"روانه ئې مکبت له د ادب د باغ کوتر ئې
خدائیګو معتبره ئې
تخلیق د کائنات کښې ته له هر څۀ نه بهتره ئې

وینم د سحر صبا ماشومې چې مکتب له ځې
څومره بوږنېدلې، تزیندلې ته ادب له ځې

رواج کښي د پښتو ساده خبره ده، غضب له ځي
خو علم چې حاصل کړې، بیابه ته له هر چا بره ئي
خدائیګو معتبره ئي"(5)(روان)

**نتیجه**: د پښتو میاشتنۍ مجلې د کال ۲۰۲۱م د مارچ په په ګڼه کښي نامتو شاعرغني خان یوه د ښاپېرو قیصي په نوم یوه داسې قیصه چې ګلزار جلال یوسفزي له انګلیسي پښتو ته ژباړلې ده چاپ شوې ده. دا یوه داسې افسانوي قیصه ده چې د ماشومانو لپاره هم ډېر څۀ لري. ځکه د ماشومانو د ادب برخه ګڼلی شي. له دې پرته په دغه ادبي او تحقیقي مجله کښې یو شمېر نور داسې مضامین، مقالې او اشعار هم چاپ شوي دي، چې د تر یوه بریده ئې موږ د ماموشانو د ادب اړوند بللی شو. ځکه چې دغه ډول مضامین، مقالې او اشعار له نورو موضوعاتو سره سره د ماشومانو د ساعت تېري (تفریح) او ذهني روزې لپاره هم پېغامونه لري.

# حوالې

(1) امن، نور البصر، د ماشومانو د ادبیاتو سماجي او کلتوري مطالعه، پښتو او شرقي ژبو څانګه، مالاکنډ پوهنتون مرستیال، هائیر ایجوکېشن ډیپارټمنټ خېبر پښتونخوا، جون ۲۰۲۲م، مخ ۲۳

(2) هم دغه ۷۱

(3) . http://www.urdulinks.com.

(4) طاهر، محمد نواز، ماشوم سحر، مشمله پېښتو، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون، ګڼه مارچ، کال ۱۹۸۳م، مخ ۳۶

(5) زاهد، حضرت خان، پښتنه ماشومه طالبه، مشموله، پښتو، ګڼه ۱۰، ۱۱، ۱۲، اکتوبر، نومبر، دسمبر، کال ۱۹۸۹. بېلا بېل مخونه.